مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د اپرېل اتمه | دویم کال| ۳۵۹مه گڼه

# د سولې رهبرۍ شورا سره مخالفت؛

## د ارگ په غونډه کې د سولې پر رهبرۍ شورا توافق نه دی شوی



۳

### د خلیلزاد له فشارونو وروسته د حکومت لومړی گام

۲ مخ

### د عمران خان څرگندونې؛ مشوره که مداخله؟!

۲ مخ

### څنگه پوه شو چې له بې خوبۍ سره مخ یو؟

۳ مخ

## چارواکي: په لوگر کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې څلور ملکیان وژل شوي دي

د لوگر سیمه ییزو چارواکو ویلي، د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې د دریو قومي مشرانو په گډون، څلور عام وگړي وژل شوي دي.

د لوگر د ولایتي شورا منشي عدالت عبدالرحیمزي پژواک خبري اژانس ته ویلي، چې بهرنیو ځواکونو د مرکز اړوند په پادخواب شانه سیمه کې د ملکي وگړو پر یوه کور برید کړی، چې له امله یې د کور څلور وگړي وژل شوي دي .

عدالت ویلي: «په دې بمبار کې د افغان اکا، امین، میرمحمد په نومونو قومي مشران او یو بل کلیوال وژل شوي دي».

د دغه ولایت د امنیه قوماندانۍ ویاند شاپور احمدزي د پېښې د پخلي ترڅنگ ویلي، چې برید د بهرنیو ځواکونو له لوري شوی دی.


د نوموړي په خبره، برید ورم ماښام د پادخواب شانه په سیمه کې شوی چې له امله یې کلیوال وژل شوي دي.

د پادخواب شانې سیمې اوسېدونکي رفیع‌الله پژواک ته ویلي، چې د افغان ځواکونو په هوایي بمبار کې څلور کلیوال وژل شوي دي .

خو دفاع وزارت ویلي چې وژل شوي کسان وسله وال طالبان دي او دوه یې د ملا منیر او ملا احمد خادم په نومونو قوماندانان وو، چې له حقاني ډلې سره یې تړاو درلود.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو دریو میاشتو کې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ځمکنیو او هوایي بریدونو پر مهال د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې ده.

## لویه جرگه فرمایشي ده، مشخصه اجنډا نه لري



۲ مخ

## هېواد


۴ مخ

### تـوالـو

تـوالـو د نـهـو ډېرینـو او یـو لـه بلـه د جـلا ټاپوگانـو ټولگـی دی، چـې د لږ مسـاحت، د کرنیزو ځمکو د کمښـت، د بډایه طبیعي شـتمنیو د نشـتوالي او لـه نړیوالـو مارکېټونـو څخه د لـرې والي لـه املـه ډېر کمـزوری اقتصـاد لري.



### په بغلان کې د ۳۵ میلیونو افغانیو په لگښت درې پلونه جوړېږي



د بغلان په ده صلاح ولسوالۍ کې د څه باسه ۳۵ میلیونو افغانیو په لگښت، د دریو پلونو د جوړېدو چارې پیل شوې دي.

د دغه ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس، انجنیر اول خان احمدزي ویلي، چې د دغو پلونو له جوړېدو سره به ښار ته د دغه ولایت د شپږو ولسوالیو د اوسېدونکو د تگ راتگ ستونزې هوارې شي .

هغه زیاته کړې پر دغو دریو واړو پلونو ۳۵ میلیونه او ۵۰۰ زره افغانۍ لگښت راځي، چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له خوا، کلیو ته د لارو جوړولو برنامې له بودجې څخه ورکول کېږي .

د احمدزي په خبره، د دغو پلونو پر جوړېدو سربېره چې مرکز پلخمري ته پر غځېدلې لار به د خلکو ستونزې راکمې شي؛ تر شپږو میاشتو پورې به د ورځې ۵۰ کسانو ته د کار کولو زمینه هم برابره شي.

### نامزدان معترض: ابطال آرای انتخابات ولسی جرگه خواست نهایی ما است



شماری از نامزدان معترض کابل و تخار، خواستار ابطال آرای این دو ولایت و برگزاری مجدد انتخابات شده و هشدار دادند که در صورت عدم توجه به خواسته های شان، دست به اعتراضات گستردهٔ مدنی می زنند. ۴۰ تن از نامزدان معترض انتخابات ولسی جرگه کابل، دیروز طی یک نشست خبری در کابل، با پُر تقلب خواندن انتخابات ولسی جرگه ۲۸ و ۲۹ میزان مدعی شدند که افراد برنده در نتایج ابتدایی انتخابات، به اساس تقلب و دادن رشوه برنده اعلام شده اند.


صدیق منصور انصاری نامزد معترض انتخابات ولسی جرگه از ولایت کابل، با انتقاد از جامعه جهانی و حکومت به منظور نادیده گرفتن اعتراضات و عدم پاسخ مثبت به آنان، گفته است که افراد برنده به اساس معامله برنده اعلام شده اند.

وی افزوده است: «ما برای اعادهٔ حق خود مبارزه می کنیم و تا زمانی که حق به حقدار نرسد، به اعتراضات خود ادامه می دهیم». عرفان الله عرفان دیگر نامزد معترض ولسی جرگه از ولایت کابل، از حکومت خواست که همه آرای کابل را باطل و انتخابات را مجدداً برگزار کند.

موصوف علاوه کرده است: «افرادی که بر اساس نتایج ابتدایی برنده اعلان شدند، اگر در لیست نهایی انتخابات ولسی جرگه کابل برنده اعلام شوند، قبول نداریم و به اعتراضات خود ادامه می دهیم».

صفیه صدیقی دیگر نامزد معترض ولسی جرگه کابل، با اشاره به تقلب گسترده در انتخابات ولسی جرگه ولایت کابل گفته است که رهبری حکومت و کمیسیون‌های انتخاباتی، باید مجدداً انتخابات ولسی جرگه را در کابل برگزار کند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019



Easy English Learning With Shigal
Admission Open
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af

## دریځ

### د خلیلزاد له فشارونو وروسته د حکومت لومړی گام

د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له پرله پسې غوښتنو او نیوکو وروسته، پرون حکومت د سولې د مذاکراتي ټیم د جوړولو لپاره لومړنی گام واخیست. حکومت د مصالحې ملي شورا جوړه کړه چې پرون یې لومړنی غونډه وه. په دې شورا کې پخواني ولسمشر حامد کرزي، استاد سیاف، اسماعیل خان، نورو سیاسي او جهادي مشرانو، د مدني ټولنې ځینو استازو، دیني عالمانو، مېرمنو او ځینو حکومتي مشرانو گډون کړی و. اجرایه رییس ډاکټر عبدالله له هېواده بهر و او د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار د غونډې پر ترکیب او گډونوالو د اعتراض له امله غونډې ته نه و، ورغلی. د مصالحې په ملي شورا کې چې لومړی غونډه یې پرون وشوه، د قطر د غونډې پر اجنډا او دې غونډې ته د افغان دولت د یو پلاوي پر ورتگ هم خبرې شوې دي. ویل کېږي چې د مذاکراتي پلاوي پر ټاکلو هم کار روان دی او د تایید لپاره به راتلونکې چهارشنبې د مصالحې ملي شورا ته راوړل شي.

دغه گام ته د یو پرمختگ په سترگه کتل کېږي، خو لا هم د دې هڅې پر څرنگوالي نیوکې شته. ښکاري چې حکومت نور د امریکا او په ځانگړي ډول د خلیلزاد د غوښتنو پر وړاندې مقاومت نه شي کولی، نو ځکه اړ شو چې یو گام واخلي. دا یو ښه گام هم دی او پکار ده چې حکومت د مذاکرې لپاره یو پیاوړی پلاوی ولري. په دغه پلاوي کې باید د ټولو مطرحو سیاسي گوندونو، ډلو، ځوانانو، ښځو او نورو خلکو استازي وي. له همدې امله اړتیا ده چې د داسې یو پلاوي پر ټاکلو حکومت او له حکومت څخه د باندې سیاسیون سلا او توافق وکړي. اوس چې د مصالحې عالي شورا جوړه شوې ده، دا د یو پیاوړي ټیم د ټاکلو لپاره ښه گام دی، ځکه چې که دا شورا ټاکل کېدونکی پلاوی تایید کړي، نو تر ډېره به د منلو وړ وي.

څه چې د دې شورا په اړه د اندېښنې وړ دي، هغه دا دي چې ځینې مهم شخصیتونه او گوندونه پکې نه وو، خو ځینې خورا کمزوري گوندونه او نامطرح شخصیتونه پکې وو. د دې لامل دا دی چې حکومت پلوي سیاستوال او ډلې غټې ښودل کېږي او دا چاره د دې شورا سترې دندې ته زیان اړوي. له بله اړخه د شورا په لومړی غونډه کې هم اختلاف او پر ځینو مسایلو توافق نه دی شوی. د ولسمشر پرونی خبرې هم داسې وې چې د ځینو کسانو پر وړاندې به د خنډ جوړولو په موخه ترې استفاده وشي. نوموړي وویل چې په پلاوي کې به داسې کسان نه ټاکل کېږي، چې د تېرو اتلس کلنو لاسته راوړنو او نظام ضد خبرې کوي او د ولسواکۍ ضد وي. اوس به دا څوک ثابتوي چې څوک په دې کټگورۍ کې راځي، ځکه حکومت خپلو سیاسي مخالفینو ته د نظام ضد کسان وایي، سوله غوښتونکو ته د تېرو اتلسو کلونو د لاسته راوړنو ضد کسان وایي او هغوی د ولسواکۍ ضد گڼي، چې د سولې لپاره پر ټاکنو کرښه را وباسي. همدلته ده چې ستونزه پېښېږي. له بله اړخه حکومت هڅه کوي چې ځینې حکومت او حکومت پلوه کسان په پلاوي کې د ځوانانو، ښځو، مدني ټولنې او یا نورو قشرونو د استازو په توگه تېر کړي.

په ټوله کې د مصالحې د عالي شورا جوړول یو ښه گام دی، خو پکار ده چې حکومت ترې ناوړه گټه وانه خلي. باید یوه واقعي شورا وي چې د مذاکراتو لپاره بیا یو پیاوړی، هر اړخیز او کارنده ټیم وټاکي او دغه ټیم د سولې له رواني پروسې سره مرسته وکړي.

# د عمران خان څرگندوني؛ مشوره که مداخله؟!

لیکنه: برکت الله اریوبي

د مداخلې تعریف څه اسانه خبره نه ده او هغه ځکه چې د مداخلې تعریف په حدودو، شرایطو او اړخونو کې توپیر لري. سره له دې چې بېلابېلو حقوقپوهانو د مداخلې په اړه مختلف تعریفونه کړي، خو ټول یې په یوه خوله دي چې د مداخلې مفهوم په کلي او جامع توگه واضح نه دی او دا د دغه مفهوم په حدودو او اړخونو کې د ابهام او گونگتیا د شتون زېږنده ده او دولتونه دغه مفهوم په بېلابېلو بڼو اعمالوي.

نړیوالو حقوقپوهانو هڅه کړې چې د مداخلې په تعریف سره دا مفهوم وارزوي. شارل روسو د نړیوالو حقوقو تکړه استاد د مداخلې د تعریف په اړه وایي: «مداخله د یو هېواد له لوري د بل هېواد په چارو کې نفوذ کول دي، څو هغه هېواد اړ باسي چې یوځانگړی عمل ترسره او یا ترې ډډه وکړي او په دې لټه کې وي چې د سیاسي، اقتصادي، نظامي، رواني او نورو ابزارو څخه په گټنې، خپلو موخو ته ورسېږي او خپل نظر پرې تحمیل کړي».

د ډیوېډ شایمان له نظره، مداخله د یو هېواد له لوري د بل هېواد په چارو کې په استبدادي او ډیکتاتوري ډول مداخله کول دي، څو د چارو وضعیت په عملي او داخلي توگه تغیر ومومي.

د نړیوالو حقوقو په دایرة المعارف کې د مداخلې مفهوم په تعریف کې حدود په دې توگه راغلي دي: «سره له دې چې د مداخلې اړوند مفاهیم په نړیوالو حقوقو کې هغه مسایل دي، چې تر هر څه ډېر بحث پرې شوی او هېوادونو هم هڅه کړې او کوي یې چې په داخلي او باندنیو چارو کې هر ډول مداخله غیرمشروع وبولي، خو تر اوسه هم په دې اړه یو روښانه او واضح تعریف نشته».

د ډېریو حقوقپوهانو په اند، مداخله هغه ده چې د یوه هېواد له لوري د بل هېواد په داخلي او بهرنیو چارو کې داسې لاسوهنه وشي، څو تر مداخلې لاندې هېواد د یو ځانگړي عمل اجرا او یا خاص رفتار ته اړ باسي او په پایله کې د حاکم هېواد اراده نقض شي.

د حقوقو بلک نومی فرهنگ د مداخلې مفهوم په اړه داسې تعریف لري: «د دوو یا څو هېوادونو دخالت چې ممکن د پېښې په تناسب کېدای شي، له زور څخه گټه واخلي».

لکه څنگه چې لیدل کېږي، پورتني تعریفونه ډېر واضح او دقیق نه ښکاري او هر یو یې ځانگړې نیمگړتیاوې لري او اوس هم گومان کېږي چې په دې اړه جامع تعریف نشته. ځینو حقوقپوهانو مداخله داخلي امر گڼلې او په داخلي چارو کې یې هر ډول مداخلې ته ویلې، په داسې حال کې چې ځینې نور مداخله یوازې په داخلي چارو پورې نه منحصروي، بلکې په نړیوالو او باندنیو چارو کې نفوذ کولو ته هم مداخله وایي او په دې ترتیب داسې تعریف چې ټول سره په یوه خوله وي، هېڅ نشته.

د مداخلې لپاره د دقیق او جامع تعریف د نه شتون انگېزه سیاسي هم کېدای شي، ځکه چې هر دولت او حقوقپوه د خپلو ملي گټو په خاطر تعریف ارایه کوي او هغه ډول یې تعریفوي چې څنگه یې ملي گټې ایجاب کړي، چې ښه بېلگه یې غربي هېوادونه دي. ځکه دوی مداخله په څه ډول چې ملي گټې یې غواړي، هغه ډول تعریفوي. خو له دغو ټولو ستونزو او کمیو سره سره، داسې گومان کېږي چې لاندې تعریف یو څه جامع او مناسب دی: «په نړیوالو عمومي حقوقو کې مداخله د یو هېواد له لوري د بل خپلواک هېواد په داخلي او بهرنیو چارو کې د نظامي، سیاسي، اقتصادي، رواني او نورو فشارونو پرمټ، په مستقیم او یا غیرمستقیم ډول، ښکاره یا پټه لاسوهنه ده، څو لاسوهونکی هېواد، پر محکوم هېواد خپله اراده تحمیل کړي». دا چې ادعا کوو چې پورتنی تعریف د نورو په نسبت مناسب دی، لاندې دلایل لري:

لومړی: مداخله هغه دخالت ته وایي چې د یو هېواد په داخلي او بهرنیو چارو کې صورت مومي. د ځینو پوهانو د نظرونو پر خلاف، مداخله یوازې په داخلي چارو کې نه کېږي، دا په داسې حال کې ده چې پورتنی تعریف په نړیوالو او بهرنیو چارو کې دخالت ته هم اشاره کوي.

دویم: په پورتني تعریف کې د یو خپلواک هېواد په داخلي او بهرنیو چارو کې دخالت ته مداخله ویل شوې، چې دا په خپله د پورتني تعریف قوت ښکاره کوي.

درېیم: مداخله کېدای شي د نظامي، سیاسي، رواني او نورو فشارونو په پایله کې ترسره شي. پخوا به مداخله تر ډېره د نظامي وسیلې له لارې ترسره کېده، خو وروسته په سیاسي، اقتصادي، تبلیغاتي او نورو ډولونو هم ترسره کېږي. په اوس وخت کې د نړیوالو حقوقو د تحول او پراختیا په پایله کې مداخله د نویو مسایلو لکه بشري حقونو، چاپېریال ساتنې، له تروریزم سره د مبارزې او دا ډول نورو مواردو په نوم هم ترسره کېږي.

څلورم: مداخله کېدای شي په مستقیم او یا غیرمستقیم ډول وي او مداخله په ښکاره او پټه توگه هم ترسره کېږي.

پنځم: مداخله د مداخله کوونکي هېواد د ارادې تحمیل په موخه صورت نیسي؛ یعنې نوموړی هېواد د خپلو سیاسي، اقتصادي او نورو موخو د ترلاسه کولو لپاره مداخله کوي. په همدې اساس وایو چې مداخله بې موخې نه وي او ترڅنگ یې اهداف هم شته، چې مداخله کوونکی دغه امر ته مجبوري.

له دغو ټولو سره سره، تر اوسه هم د مداخلې دقیق او ښکاره تعریف لپاره پراخه زمینه نه ده برابره شوې. داسې یو تعریف چې نسبتاً ټول حقوقپوهان پرې توافق ولري او دا څه کېدای شي د مداخلې د مفهوم په نیمگړتیا او گونگوالي کې تر یوې کچې کموالی راولي.

د پورتني تعریف په رڼا کې گورو چې ایا د عمران خان څرگندونې د افغانستان په چارو کې مداخله گڼل کېدای شي، که څنگه؟

مخکې له دې چې پورتنۍ موضوع وڅېړو، ښه به وي چې په وروستیو کې د دواړو هېوادونو اړیکو ته یو ځغلنده نظر وکړو. وروسته له هغې چې ولسمشر غني د لوړې مراسم ترسره کړل، د افغانستان په بهرنۍ پالیسۍ کې یې ژور بدلونونه راوستل. امریکا چې د پخواني ولسمشر کرزي په وخت کې د ټولو ستونزو سرچینه بلل کېده، د ولسمشر غني له خوا تقدیر شوه او د تېرو او راتلونکو مرستو هرکلی یې وکړ. د پخواني ولسمشر برعکس، ولسمشر غني د امریکا کانگرېس ته په ښکاره ډول وویل چې په سیمه کې مو گټې سره شریکې دي او باید دواړه هېوادونه د دغو گټو د ترلاسه کولو لپاره گډې هلې ځلې وکړي. ولسمشر غني د ولسمشر کرزي برعکس، له امریکا سره د هر راز اړیکو او په سیمه کې د گډو پروژو ژمنه وکړه او افغانستان یې په سیمه کې د امریکا لپاره د نورو په پرتله، د ستراتېژیکې ملگرتیا لپاره رښتینی دوست یاد کړ.

ولسمشر په دغه گام سره د هېواد په داخل کې د ډېرو افغانانو له توند غبرگون سره مخ شو او کابو ټول افغانان په یوه خوله وو چې (آزموده را آزمودن خطاست). کله چې ولسمشر د پاکستان په نیت شک پیدا کړ، هماغه وو چې له دغه گاونډي سره یې پر اړیکو له سره غور وکړ او بالمقابل هند ته یې پاملرنه ډېره کړه، چې دا په خپله د پاکستان د اندېښنې سبب شوه.

وروستۍ اړیکې د دغو هېوادونو ترمنځ هغه وخت کړکېچنې شوې، چې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ امریکایي پلاوي له افغان طالبانو سره لیده کاته ډېر کړي او پنځه ځله مخامخ سره ناست دي. افغان دولت له ډېر پخوا راهیسې پر پاکستان دا تور لگوي چې طالبانو ته یې پټنځایونه ورکړي او له تروریزم څخه د بهرني سیاست د موخو په لاسته راوړلو کې د یوې وسیلې په توگه کار اخلي. خو پاکستان دا مسئله تل رد کړې او وایي چې پاکستان پر افغان طالبانو دومره نفوذ نه لري، چې د مذاکراتو مېز ته یې حاضر کړي، هغه څه چې د عمران خان په مشرۍ پاکستاني حکومت ترسره کړل، د خلیلزاد په غوښتنه یې ملابرادر له بنده ازاد او له امریکایانو سره یې خبرو اترو ته حاضر کړ. پاکستان غواړي چې د سولې تر هوکړه لیک مخکې، په افغانستان کې یو موقته اداره رامنځته شي، داسې اداره چې دوی پکې ډېر نفوذ ولري او اړیکې یې ورسره عادي شي او د هند له لوري یې مخ پاکستان ته وگرځي.

د پاکستان دا نیت د عمران خان له وروستیو څرگندونو معلومېږي، چې په لومړي ځل یې په خیبرپښتونخوا کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال ویلي وو، چې په افغانستان کې یو داسې حکومت را روان دی چې زموږ اړیکې به ورسره ښې وي، سوداگري به پراختیا ومومي او داسې نور. د نوموړي دا څرگندونې د ولسمشر غني او افغان چارواکو له توند غبرگون سره مخ شوې دي. عمران خان په دویم ځل په باجوړ کې یوې غونډې ته وویل چې په افغانستان کې د سولې پروسې کامیابېدو یوازینۍ لار دا ده، چې په دغه هېواد کې موقت حکومت رامنځته شي، داسې حکومت چې ټولې خواوې د طالبانو په شمول پکې غړیتوب ولري. افغان حکومت یې په غبرگون کې خپل سفیر د اعتراض په بڼه راوغوښت او د عمران خان څرگندونې یې وغندلې. د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په افغانستان کې د لنډمهاله حکومت رامنځته کېدو په تړاو، خپلې پخوانۍ څرگندونې بیا تکرار کړې. نوموړي د خیبرپښتونخوا په قبایلي سیمه خیبر کې یوې غونډې ته د وینا پرمهال خپلې دغه تکرار شوې څرگندونې یو وړاندیز بللی دی.

عمران خان غونډې ته وویل: «تېر ځل هم ما افغانستان ته له خپله اړخه یوه مشوره ورکړه، چې هلته له ټاکنو مخکې یو موقت حکومت جوړ کړي، خو هلته خلک په غوسه شول، ماته یې ډېر بد رد وویل، د افغانستان خلکو! موږ تاسې خپل وروڼه گڼو، زه خدای تعالی ته دعا کوم چې د افغانستان د خلکو سوله په برخه شي. ما ویلي وو چې په ۱۹۷۷ ز کال کې چې په پاکستان کې ټاکنې شوې وې او مخالفو گوندونو یې پایلې نه منلې، نو گډوډۍ جوړه شوه او د هغې گډوډۍ په نتیجه کې پوځ واک په لاس کې واخیست، نو ورور بل ورور ته د خپلې تجربې پر بنسټ وایي، که چېرې تاسې غواړۍ له ټاکنو څخه سوله تر لاسه کړۍ، زموږ تجربه ښیي چې د یوه داسې لنډمهاله حکومت تر مشرۍ لاندې ټاکنې وکړئ، چې د حکومت مخالفین یې بې طرفه گڼي او بیا یې پایلې ومني».

دا په داسې حال کې ده چې د نړیوالو حقوقو له مخې هر هېواد حق لري، چې خپل سرنوشت په خپله وټاکي او د ملي مسایلو او دریځونو په اړه نور حکومتونه نشي کولای ورته سلا او مشورې ورکړي؛ ځکه په دا ډول مسایلو کې مداخله په غیرمستقیمه توگه ملي حاکمیت او د هېوادونو سرنوشت ټاکلو اصل ته زیان رسوي، هغه څه چې نړیوال حقوق یې په کلکه ردوي او د مسالمت امیزه اوسېدو پر وړاندې یې خنډ گڼي.


پاکستان او افغانستان ته ښایي چې د ښو گاونډیو په څېر، پر هغو مسایلو ډېر تمرکز وکړي چې گډې گټې یې پکې دي. په اروپا کې د فرانسې او جرمني له گاونډیتوب څخه تجربه ترلاسه کړي، نه په هغو ټکیو چې د واگرایۍ سبب کېږي. د خپلواکو دولتونو په شان د یو او بل ملي حاکمیت ته درناوی وکړي، که نه؛ په اړیکو کې ترینگوالی به دې دواړو لوریو په گټه نه وي.

## دانش: د کانونو استخراج لپاره روښانه پالیسي نشته

په کابل کې د اروپایي ټولنې سفیر وایي، په افغانستان کې د کانونو استخراج په برخه کې لاهم لازم شفافیت نه دی رامنځته شوی او وسله وال مخالفین په غیر قانوني ډول ترې استفاده کوي.

نوموړي چې په کابل کې یې د جیولوجستانو د نړیوالې ورځې په مناسبت په جوړه شوې ناسته کې خبرې کولې وویل، د طالبانو ترڅنگ داعش ډله هم د افغانستان له طبعي زېرمو څخه د عایداتي سرچینو په توگه استفاده کوي.

په کابل کې د اروپایي ټولنې سفیر پیری مابدون په دې اړه وویل: «په افغانستان کې



د غیر قانوني استخراج ستونزه لاهم پرځای ده، په ډېرې سیمو کې وسله وال طالبان له معادنو څخه استفاده کوي، خو ترڅنگ یې داعش ډله هم د معادنو له استخراج څخه پیسې ترلاسه کوي، په لرې پرتو سیموکې غیر مسوول وسله وال هم له دې لارې غیرقانوني پیسې ترلاسه کوي، چې باید مخه یې ونیول شي.» په ورته مهال د ولسمشر لومړي مرستیال سرور دانش هم دې ناستې ته وویل، په افغانستان کې د کانونو د استخراج لپاره لازم ظرفیتونه نه دي رامنځ ته شوي او اړتیا ده چې په دې برخه کې خصوصي سکتور ونډه واخلي.

سرور دانش وایي، د کانونو د استخراج په برخه کې یوې ثابتې او واضح کړنلارې ته اړتیا ده، ځکه په وینا یې موقتي او بېړني اقدامات دغه سکټور ته زیان رسوي.

هغه زیاته کړه: « د ټولو خلکو په ځانگړې توگه د خصوصي سکټور دنده د دولت تر دندې لږه نه ده. موږ نن ورځ په ځینو برخو کې له یو ډول بې مسوولیتیو سره مخ یو چې دا په خپله ناقانونیو، قاچاق او له قانون څخه تېښتې ته لاره هواروي.»

# د سولې رهبرۍ شورا سره مخالفت؛

## د ارگ په غونډه کې د سولې پر رهبرۍ شورا توافق نه دی شوی



د ارگ په غونډه کې د سولې رهبرۍ شورا پر طرحه او ترکیب توافق نه دی شوی. سره له دې چې په دې وروستیو کې د سولې خبرې تودې دي، خو داسې ښکاري چې افغان حکومت په دې برخه کې د سیاسیونو د ځینو اقداماتو مخه نیسي. امریکا له طالبانو سره د خپلو مذاکراتو په اوږدو کې له افغان حکومته غوښتي وو، چې له طالبانو سره د مخامخ مذاکراتو لپاره باید یو بې طرفه، ټولمنلی او رښتینی ټیم وگوماري. امریکا ټینگار کاوه، چې دغه ټیم باید د ولس استازیتوب وکړي او د افغانانو خبرې دې وکړي. په همدې لړ کې ځینو سیاسیونو په تېره اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار د سولې په باره کې د یوې رهبرۍ شورا د جوړېدو غوښتنه وکړه. هغه مهال داسې ویل کېدل چې ښایي دغه شورا جوړه شي او په هغه کې د افغانانو رښتیني استازي گډون وکړي؛ خو د ارگ په پرونۍ غونډه کې د سولې رهبرۍ شورا پر جوړښت او ترکیب توافق نه دی شوی.

په ارگ کې پرون د سیاسي او جهادي مشرانو مجلس جوړ شوی و او ولسمشر غني دغه مجلس ته وینا هم وکړه. تېره اونۍ داسې راپورونه خپاره شوي وو، چې حکومت غواړي د سولې په روانو خبرو کې د نفوذ په هدف، د جهادي او سیاسي مشرانو، مدني ټولنې او ځوانانو په گډون د سولې رهبرۍ شورا په نامه یو نوی تشکیل رامنځته کړي، خو ارگ کې په دې اړه په دواړو مجلسونو کې پر دې طرحه همغږي نه ده رامنځته شوې.

په پرونۍ ناسته کې د ولسمشر غني، پخواني ولسمشر حامد کرزي ترڅنگ، ډېرو سیاسي او جهادي مشرانو گډون کړی و. دوی تمه لرله چې افغان حکومت به د رهبرۍ شورا په اړه پرېکړه وکړي او په دې اړه به یو توافق رامنځ ته شي، خو دا کار نه دی شوی. بلخوا ولسمشر غني بیا ویلي، هغو کسانو ته به له وسله والو طالبانو سره په مذاکراتو کې د گډون چانس ورنه کړل شي، چې د اوسني نظام خلاف وي. غني ویلي: ((د هغه افرادو له ټاکلو دې ډډه وشي، چې په واضح ډول د تېرو اتلسو کلونو د لاس ته راوړنو پر ضد غږېږي، د ولسواکۍ پر ضد غږېږي او د نظام پر ضد څرگندونې کوي)).

ولسمشر د سولې په نامه رهبرۍ شورا لپاره له خپله اړخه یو ۳۷ کسیز ترکیب جوړ کړی، چې د سیاسي او جهادي مشرانو په گډون، ډېر ځوانان او د مدني ټولنو او ښځو د حقونو فعالانې پکې شامل دي، خو پر دغه ترکیب اعتراض دی.

د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار دغه مجلس ته نه و تللی او اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله، چې د داسې یوې طرحې وړاندیز یې کړی و، په یوه بهرني سفر بوخت دی. بلخوا اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا په اردون کې له ټي ار ټي ټلوېزیون سره د خبرو پر مهال ویلي، چې په نږدې ورځو کې به د سولې رهبرۍ شورا جوړه شي. د نوموړي په خبره، افغانان سولې ته نږدې شوي دي او دغه شورا به په نږدې وخت کې خپل فعالیت پیل کړي.

په ورته وخت کې د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس عمر داوودزی وایي، چې د سولې عالي شورا رییس محمدکریم خلیلي د سولې رهبرۍ شورا پر نوي ترکیب کار کوي. عمر داوودزي ویلي: ((په دې اړه استاد کریم خلیلي د یوې کمېټې په مشرۍ کار کوي او د سولې د رهبرۍ شورا لپاره د وړاندیز شوو کسانو نوملړ به راتلونکې غونډې ته د تایید لپاره وړاندې کړي)).

د ارگ د یکشنبې ورځې په مجلس کې د سولې رهبرۍ شورا پر طرحې او ترکیب د توافق نشتوالی داسې مهال دی، چې ولسمشرۍ ماڼۍ وایي، پرونۍ غونډه د سولې رهبرۍ شورا لومړنۍ غونډه وه.

## د سولې او اعتدال ټاکنیز ټیم: لویه جرگه فرمایشي ده، مشخصه اجنډا نه لري




د هېواد د ملي امنیت د پخواني سلاکار محمدحنیف اتمر په مشرۍ د سولې او اعتدال ټیم ویلي، د سولې مشورتي لویه جرگه تر ډېره د حکومت لخوا فرمایشي ده او په دې اړه له سیاسي جریانونو سره سلا مشورې نه دي شوې.

د سولې او اعتدال ټیم له خوا په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې دا جوړېدونکې جرگه د دې پر ځای چې مشورتي وي، سفارشي ده چې ترسره کېدل به یې گټه ونه لري. سرچینه کاږي چې د دې سفارشي او فرمایشي جرگې موخه خلکو ته معلومه نه ده او هېڅ مشخصه اجنډا نه لري.

د سرچینې په خبره، د دې جرگې گډونوال د حکومت له لوري ټاکل کېږي، چې په هېڅ صورت له یو ملي ترکیب څخه نمایندگي نه شي کولی. د سولې او اعتدال ټیم له حکومته غوښتي چې په دې حساس وخت کې په یوازې ځان پرېکړې ونه کړي او په دغه راز مهمو پرېکړو کې باید له سیاسي احزابو او مخورو سره وخت پر وخت مشورې او ناستې وشي.

بلخوا د لویې جرگې د جوړېدو کمېسیون غړي داوود کلکاني هم منلي، چې دا جرگه یوازې د سولې په مذاکراتو کې د مشورې ورکړې ونډه لري او په پای کې به ولسمشر پرېکړه وکړي.

د سولې او اعتدال ټاکنیز ټیم غړې فوزیې کوفي هم ویلي، چې د سولې مشورتي لویې جرگې د جوړېدو لپاره د پنځو میلیون ډالرو لگول په اوسنیو اقتصادي شرایطو کې د خلکو له بودجې ناوړه استفاده ده.

کوفي ویلي: «دا جرگه نه یوازې دا چې د سولې له بهیر سره مرسته نه کوي، بلکې دا یو ټاکنیز کمپاین دی او د مشخصو نوماندانو په گټه له دولتي سرچینو ناوړه استفاده ده».

د یادونې ده چې د لویې مشورتي جرگې جوړوونکي کمېسیون د طرحې او پروگرام له مخې، له ټول هېواد او له هېواده بهر افغانانو څخه به ۲۵۰۰ کسان په دغه جرگه کې گډون وکړي، چې د جرگې د گډونوالو عُمر به له ۲۳ کلونو لوړ وي.

## عبدالله: طالبان لاهم له خپل دریځه نه دي په شا شوي




اجرایه رییس عبدالله عبدالله د منځني ختیځ او شمالي افریقا لپاره په اقتصادي ناسته کې ویلي، چې طالبان لا هم له خپل دریځه نه دي په شا شوي.

نوموړي ویلي: «طالبان تر اوسه هم د ښځو د حقونو او ټولنیزو ازادیو په اړه له خپل دریځه نه دي اوښتي او دوی لاهم د ځینو ارزښتونو ضد دي».

اجرایه رییس له افغان سولې د امریکا متحده ایالتونو په ملاتړ د ټینگار ترڅنگ ویلي، چې لا هم طالبان په افغانستان کې د سولې او ثبات د تامین پر وړاندې ستر خنډ دي.


عبدالله په دې ناسته کې سولې ته د رسېدو لپاره هیله مندي ښودلې او زیاته کړې یې ده: «هیله من یو چې په هېواد کې د ۴۰ کلنې جگړې تغر د تل لپاره ټول شي، ځکه جگړو او تاوتریخوالي د اقتصادي پراختیا په برخه کې له افغانانو بې شمېره فرصتونه اخیستي دي».

هغه په افغانستان کې د بیان ازادي، د مدني ټولنو د فعالیتونو، د ښځو د حقونو مدافع ادارو، په ښوونځیو او پوهنتونو کې د میلیونونو نجونو او هلکانو د حضور په گډون، ستر ټولنیز بدلون ته په اشاري ویلي: «وسله والې ترهگرې ډلې لکه طالب، القاعده او داعش په افغانستان کې د یو بل په همکارۍ فعالیت کوي، خو ټولو ترهگرو ډلو ته د فعالیت زمینه طالبانو برابره کړې ده».

اجرایه رییس په دغه اقتصادي ناسته کې ټینگار کړی، چې افغانستان د سوېلي او مرکزي اسیا د وصل کوونکي په توگه او د سترو طبیعي زېرمو په درلودو سره د یوه نوي او باظرفیته نسل په ظهور سره د پانگونې او اقتصادي پراختیا لپاره ښه فرصتونه لري.

عبدالله اردن ته د خپل دغه سفر په ترځ کې د اردون له چارواکو سره هم لیدلي او د لیدنو پرمهال د افغانستان او اردن ترمنځ پر دوو اړخیزو اړیکو، له ترهگرۍ سره پر مبارزې او د سولې پر خبرو اترو هم ټینگار شوی دی.

## قریشي: ملگري ملتونه دې پر پاکستان د هند د بل احتمالي برید مخنیوی وکړي



د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي، هند پر پاکستان د بل برید پلان جوړوي. نوموړي پر نړیوالې ټولنې غږ کړی، چې د هند د دغه برید د مخنیوي لپاره دې لاس پکار شي.

نوموړي ویلي، موږ کره استخباراتي معلومات لرو چې هند د اپرېل له ۱٦مې تر ۲۰مې یو وار بیا پر پاکستان د برید پلان لري. قریشي ټینگار کړی چې که چېرې دغه هېواد پر پاکستان برید وکړي، نو دا به د سیمې د ثبات او امنیت لپاره ناوړه پایلې ولري. قریشي دغه څرگندونې تېره ورځ په ملتان کې یوې خبري غونډې ته د وینا پرمهال کړې دي.

هغه ویلي، هندوستان په هندي کشمیر کې د پلوامې برید په اړه د یوې بلې لوبې پلان جوړوي، چې په پایله کې به یې پر پاکستان سفارتي فشار او د پوځي اقدام بهانه ولټوي.

قریشي زیاته کړې: «له موږ سره دا مهال کره استخباراتي معلومات دي، چې هند یو نوی پلان جوړوي او پر پاکستان د یوه بل برید امکان دی او زموږ د معلوماتو له مخې، دا برید د رواني اپرېل له ۱٦مې تر ۲۰مې نېټې پورې امکان لري. که چېرې داسې کېږي، نو دا به دې سیمې پر امنیت او ثبات ناوړه اغېز وکړي».

قریشي زیاته کړې چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د دغو کره معلوماتو پر بنسټ، د امنیت شورا غړي دغه وزارت ته وربللي وو او خپلې اندېښنې یې ورسره شریکې کړې دي.

نوموړي زیاته کړې: «موږ غواړو چې نړیواله ټولنه د دغه غیر مسوولانه چلند مخنیوی وکړي او پر هغوی دې فشار راوړي چې پر دې لار لاړ نه شي».

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر په داسې حال کې پر پاکستان د هند د احتمالي برید خبرداری ورکوي، چې هند په تېرې فبرورۍ میاشت کې په پاکستان کې دننه د وسله والو ترهگرو پر یوه مرکز د هوایي برید او ډېرو ترهگرو د وژلو ادعا وکړه، خو پاکستان دا ادعا رد او بې بنسټه وبلله.

د هند او پاکستان ترمنځ دغه کړکېچ تر هغې وروسته رامنځته شو، چې د فبرورۍ په میاشت کې د هندي کشمیر په پلوامه سیمه کې د هندي ځواکونو پر یوه کاروان موټر بم ځانمرگی برید وشو، چې په نتیجه کې یې تر ۵۰ زیات هندي سرتېري ووژل شول او لسگونه نور ټپیان شول.

د دغه خونړي برید مسوولیت پاکستان مېشتې وسله والې ډلې جیش محمد ومانه، چې بیا وروسته هند پرې تور ولگاوه چې دغه برید په پاکستان کې پلان شوی و او له پاکستانه یې وغوښتل چې د دې ډلې پر وړاندې جدي گامونه پورته کړي.

د یادونې ده چې د پاکستان او هند ترمنځ د رامنځته شوي وروستي کړکېچ له امله، دې دواړو هېوادونو سرتېري په کشمیر کې له گډې پولې پر یو بل ډزې کوي چې په نتیجه کې یې د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د دواړو هېوادونو پوځیانو او پر پوله مېشتو ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوړي.

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اتم څپرکی
### خپل ذهنیت د ځان ملاتړی کړئ




هغه استازي چې څلور نوي نیم ډالره راټول کړي وو، هېڅ شور و شوق یې نه درلود، خبرې یې داسې وې چې: (زه فکر کوم دا به ارزښتمن سازمان وي)، (دا لوی سازمان دی او غړي یې له شتمنو ډېرې مرستې را ټولوي، نو زه فکر کوم ستاسې دا چنده به دومره پکې مهمه نه وي، خو که بیا هم تاسې څه ورکول، نو ماسره اړیکه کې شئ.) دې سړي خلک له سره صلیب سره اړیکې او مرستې ته نه هڅول.

سږ کال بیا بل سړی راغلی و. ډېر شور و شوق یې درلود. ژوندۍ بېلگې یې ورکولې چې سور صلیب د ناڅاپي پېښو پر وخت څنگه مرستې کوي. دا خبره یې هم کوله چې سور صلیب ستاسې د هر یوه تن په مرسته روان دی. د مرستې لاربښوونه یې ورته دا کړې وه چې ورته ویلي یې وو: تاسې له خپل گاونډي سره د ستونزې پر وخت څومره مرسته کولای شئ؟ ورته ویلي یې وو: (ومو لیدل چې سور صلیب څه کوي؟)

خو گورئ دې سړي سوال نه دی کړی، دا یې نه دي ویلي چې: (تاسې راسره دومره مرسته وکړئ.) یوازې د سره صلیب ارزښت یې روښانه کړ او خلک یې ورته لېواله کړل، دا کار طبعاً برې لري.

اوس تاسې یوه مدني یا خیریه ټولنه فرض کړئ چې له صحني وځي، دې ته څه شی بیا ژوند ورکولای شي؟ ښایي یوازې همدا شور و شوق به بېرته ژوند ورکولای شي.

پایلې د ښودل شوي شور، شوق او لېوالتیا له مخې رامنځته کېږي. که لنډه یې ووایو شور و شوق (ډېر عالي دی!)

دلته یوه لنډه طریقه راغلې ده، دا طریقه درې پړوانه لري او شور و شوق په همدې طریقه پیدا کولای شئ:

۱. ژور لاړ شئ. دا کوچنۍ تجربه وکړئ. داسې دوه شیان فرض کړئ چې تاسې ورسره لږه علاقه لرئ یا یې بیخي نه لرئ. مثلاً د قطعو لوبه، یو ډول موسیقي یا ورزش ... اوس له ځان نه پوښتنه وکړئ چې: زه په دې څومره پوهېږم؟ ) ښایي ډېر لږ پرې پوه شئ. زه دا اعتراف کوم چې کلونه مې موډرنو هنرونو سره هېڅ علاقه نه وه، دا راته هسې پېچلې کارونه ښکارېدل، تر دې چې د یوه ملگري مې یو موډرن هنر ډېر خوښېده او هغه یې راته تشریح کړ. اوس مې چې د دې هنر په اړه معلومات زیات شوي دي، نو دې هنر هم راته یو خاص جذابیت پیدا کړی دی.

دا تمرین د شوق پیدا کولو مهمه کیلي ده. که تاسې ځان کې شوق پیدا کوئ، نو د هغو شیانو په اړه لا ډېر معلومات پیدا کړئ چې شوق ورسره نه لرئ.

زه باور لرم چې تاسې به له مچیو سره هېڅ علاقه نه لرئ، خو که همدا مچۍ مطالعه کړئ، په اړه یې معلومات پیدا کړئ او په گټه یې پوه شئ ... لنډه دا چې په اړه یې ټول معلومات پیدا کړئ، نو وبه گورئ چې له همدې مچیو سره به هم ستاسې شوق پیدا شوی وي.

زه چې خپلو زده کوونکو ته دا د ژور تلو خبره تشریح کوم، نو د گلخانې مثال ورته راوړم، زه ترې پوښتنه کوم، خو هڅه کوم پوه نه شي چې دا پوښتنه مې قصداً کړې ده، ورته وایم: (تاسې د گلخانو له تولید او خرڅلاو سره علاقه لرئ؟) هېڅ یو راته مثبت ځواب نه راکوي، بیا دې ډلې ته وایم چې دا گلخانې څنگه د ژوند کچه لوړوي او د خلکو لېوالتیا ورسره ورځ تر بلې زیاتېږي. بیا ورته دا وایم چې امریکایي مېرمنې په خپل لاس د کرلو نارنجونو وړمې څومره خوښېږي. بیا ورته وایم چې لسگونه زره خلک که حوضونه لرلای شي، نو میلیونونه خلک د گلخانو اخیستو وس لري، ځکه دا تر حوضونو ارزانه دي. بیا ورته وایم که چېرې دوی په هرو پنځوسو کورونو کې په یوې کورنۍ یوه گلخانه په شپږ سوه ډالره وپلوري، نو د گلخانو د تولید او خرڅلاو شپږ سوه میلیونه ډالري کاروبار به ولري او دې سره ښایي د تخم او نیالگیو دوه نیم سوه میلیوني کاروبار هم پیل شي.

په مثال کې یوازینۍ ستونزه دا ده چې درس ټکنی کوي، ځکه کومو شاگردانو چې لس دقیقې مخکې د گلخانو کاروبار سره هېڅ علاقه نه درلوده، اوس په دې اړه په خبرو نه مړېږي او درس پیلولو ته مې نه پرېږدي.

په همدې ژورو معلوماتو له نورو خلکو سره هم علاقه پیدا کولای شئ. هڅه وکړئ چې د خپل پام وړ انسان په اړه معلومات پیدا کړئ، د کار، کورني ژوند، فکري سوابقو، هیلو او ارمانونو په اړه یې پوه شئ، نو وبه گورئ چې په اړه یې ستاسې علاقه په زیاتېدو ده. خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړئ، حتمن به مشترکو شوقونو او لېوالتیاوو ته ورسېږئ، هڅه وکړئ، بلاخره به یوه مینه ناک انسان جوړېږئ.

دا طریقه د نویو ځایانو په اړه د لېوالتیا پیدا کولو لپاره هم گټوره ده. څو کاله مخکې زما دوه ځوان ملگري له دیترویت د کلفورنیا یوه واړه ښار ته کډه کېدل. خپل کور یې خرڅ کړ، کاري اړیکې یې پرې کړې، ملگرو سره یې خدای پاماني وکړه او روان شول.

شپږ اونۍ وروسته بېرته دیترویت ته راغلل. د راتگ دلیل یې کار پورې اړه نه لرله، بلکې خپله یې وویل چې هغه وړوکي ښار کې یې زړه تنگ شو، بله دا چې ملگري او خپلوان یې ټول دلته وو، نو له بېرته راستنېدو پرته بله چاره نه وه.

وروسته چې ورسره وغږېدم، نو هغه وړوکي ښار کې د دوی د تنگېدو په لامل پوه شوم. لامل یې دا و چې دوی هلته اوسېدل او له ښاره یې یوازې سطحي معلومات درلودل. نه یې په تاریخ پوهېدل، نه په خلکو او نه په راتلونکو پلانونو. د دوی پښې نوې ښار ته تللې وې، خو زړونه یې لا هم په دیترویت کې وو.

**دوام لري...**

# تـوالـو

حشمت الله نوري



توالو په جنوبي ارام سمندر کې د سلیمان ټاپوگانو ختیځ او د کریباتي ټاپوگانو په جنوب کې د ختیځ طول البلدونو د ۱۷٦ او ۱۷۹ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د پنځو او لسو درجو ترمنځ موقعیت لري، چې د پراخوالي له امله په نړۍ کې ۲۳۷م لوی هېواد بلل کېږي.

توالو ختیځ ته د سامو او توکلو له ټاپوگانو، لوېدیځ ته د سولومان له ټاپوگانو، شمال ته د ژیلبرت له ټاپوگانو او جنوب ته د والیس له ټاپوگان او بیا فیجي سره گډه پوله لري.

توالو لنده توده هوا لري، د دغه هېواد د هوا موسمونه یو له بل سره ډېر توپیر نه لري. په دغه هېواد کې هر کال په منځنۍ ډول ۳۰۰۰ ملي متره اورښت کېږي او د لندبل اندازه یې ډېره ده.

دغه هېواد د نهو مرجاني ټاپوگانو یو ټولگی دی، چې اته یې د استوگنې وړ دي. د توالو کلمه هم د اتو مانا ورکوي. په ۲۱مه پېړۍ کې به د جوي بدلونونو، د ځمکې د تودوخې د زیاتوالي، د قطبونو د کنگلونو د ویلې کېدو او د سمندرونو د اوبو د زیاتېدو له امله؛ د توالو له نهو څخه اته ټاپوگان تر اوبو لاندې ډوب شي. دغه نهه ټاپوگان د ارام سمندر یا پاسفیک د لوېدیځو اوبو په سیمه کې خواره واره پراته دي.

د وخت نړیواله کرښه چې د نصف النهار له ختیځې ۱۸۰ درجې سره سمون خوري، د توالو ختیځ لوري ته په لږ واټن کې تېرېږي.

د دغه هېواد پلازمېنه د فونگافالي ښار دی او ټولټال د دغه هېواد نفوس څه کم ۱۲ زرو کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومترمربع سیمه کې یې ۴۱۰ کسان ژوند کوي. د توالو د قانون له مخې، هر کورنۍ په ټول عمر کې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

د دغه هېواد رسمي ژبه توالي او انگلیسي ده، خو لیکدود یې بیا لاتیني دی. د اداري وېش له مخې دغه هېواد یو اداري واحد دی، خو هر ټاپو یې بیا جلاجلا یوه واکمنه جرگه لري.

د توالو د نوي اساسي قانون له مخې، دغه هېواد د انگلستان د ملکې په استازیتوب، د یوه گورنرجنرال له خوا اداره کېږي. په دغه هېواد کې پاچایي میراثي ده او گورنرجنرال، د لومړي وزیر په سپارښتنه د پاچا له خوا ټاکل کېږي. د توالو لومړی وزیر او د لومړي وزیر مرستیال د دغه هېواد د ولسي جرگې له غړو څخه، د همدې جرگې له خوا د دریو کلونو لپاره غوره کېږي. د دغه هېواد د هر ټاپو خلک د خپل سیمه ییز حکومت شپږ مشران پخپله خوښه ټاکي، چې یاد حکومتونه بیا د همدغو ټاپوگانو اداري او مالي چارې پرمخ بیایي.

د توالو ولسي جرگه ۱۲ غړي لري چې ټول د خلکو په خوښه، د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

عالي محکمه د توالو تر ټولو لوړ قضایي ارگان دی. د دغه هېواد ټول اته د استوگنې وړ ټاپوگان بېلابېلې خپلې سیمه ییزې محکمې لري. د دغه هېواد د قضاییه قوې مشر یا قاضي القضات د سیمه ییزو یا ښاري محاکمو د پرېکړو د څېړلو او بیا کتنې پوره واک لري او هر کال د قضایي او حقوقي سلا مشورې لپاره، درې ځلې فیجي مدافعه محکمې ته تللی شي.

په دغه هېواد کې سیاسي گوندونه نشته، خو غیر رسمي ډلې شته چې د ولسي جرگې د ټاکنو په وخت کې فعالېږي.

توالو د ۱۹۷۸ ز کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه، له انگلستان څخه خپلواکي واخیسته او هر کال د اکتوبر لومړۍ ورځ په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځ په نوم نمانځل کېږي.

توالو د نهو ډبرینو او یو له بله د جلا ټاپوگانو ټولگی دی، چې د لږ مساحت، د کرنیزو ځمکو د کمښت، د بډایه طبیعي شتمنیو د نشتوالي او له نړیوالو مارکېټونو څخه د لرې والي له امله، ډېر کمزوری اقتصاد لري او تل بهرنیو مرستو ته لاره څاري. په دغه ډېر گڼ مېشته هېواد کې هېڅ د یادولو وړ کاني مواد نشته او صادرات یې د گوتو په شمار دي. لږ کرنه او د کبانو کار د خلکو د اقتصادي هڅو بنسټ بلل کېږي. په دې وروستیو کلونو کې په کال کې په منځنۍ توگه کابو ۱۰۰۰ بهرني سیلانیان توالو ته ورځي.

د امریکا متحده ایالات هم له ۱۹۸۸ ز کال څخه راپدېخوا، دغه هېواد ته د هغه تړون له مخې یو څه پیسې ورکوي، چې په سیمه کې د کبانو د نیولو لپاره لاسلیک شوی دی. په ۱۹۸۷ ز کال کې د اسټرالیا، نیوزیلنډ او انگلستان دولتونو د جاپان او جنوبي کوریا په مرسته، یوه ټولنه جوړه کړه چې لومړنۍ پانگه یې ۲۵ میلیون ډالره وه. د اسیا د پراختیا بانک هم د توالو له دولت سره د دغه هېواد د اقتصاد په بنسټیزو تولیدي او خدماتي پروژو په جوړونه کې مرسته کوي. د توالو دولت په دې وروستیو کلونو کې پر بهرنیو مرستو باندې د خپل هېواد د اتکا د کمولو په نیامت، ځینې هڅې پیل کړې دي. د بېلگې په توگه، دوی د اقتصاد د خصوصي کولو عملیه پیل کړې ده. نورو کمپنیو ته یې د دغه هېواد د ټلیفون نړیوال کود او د انټرنټ د نامه له خرڅلاو څخه ۵۰ میلیونه ډالره تر لاسه کړي، چې دا پیسې د دغه کوچني هېواد لپاره ستره شتمني بلل کېږي او د توالو غیر خالص کورني تولید یې د تېرو لسیزو په پرتله څه د پاسه درې ځلې زیات کړی دی.

د کب نیولو او مخابراتو څو جوازونه یې صادر کړي او خپلې شتمنۍ یې په بهرنیو بانکونو کې زېرمه کړې دي، چې له کلنۍ گټې څخه یې ډېرې پیسې ورته راځي. د توالو دولت د پستي ټکټونو او سکو له خرڅلاو څخه هم یو څه عواید تر لاسه کوي. د اقلیم بدلون او په ارام او هند سمندرونو کې د اوبو ډېروالي، په اوږده موده کې د توالو اقتصاد ته یو خطر بلل کېدای شي، خو اوس اوس د توالو اقتصاد ښه لوري ته روان دی.

د توالو ډېره لږ ځمکه د کرلو وړ ده، د دغه هېواد نږدې ۹۰ سلنه خاوره له ډېرو څخه جوړه ده، چې ځای ځای د ناریال ونې په کې شنې شوې دي. د توالو ۸۰ سلنه خلک پر کرنه او د کبانو پر نیولو بوخت دي. لرگي، د ناریال زړي، دوه درې ډوله طبیعي توتي عسل او مېوې د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کېږي. په توالو کې د ځمکې د ډېر کمښت له امله، ډېر کم کرل کېږي.

هر کال کم سیلانیان د ارام سمندر ټاپوگانو ته د سفر په لاره کې په توالو کې تم کېږي. د دغه هېواد ډېر لرې والي، د هوټلونو لږوالي، د الوتکو د ټکټونو د بیو ډېر لوړوالي او د هوساینې او تفریح ځایونو لږوالي، دغه هېواد ته د ډېرو سیلانیانو د ورتگ لپاره ستونزې پیدا کړې دي. په دې وروستیو کې دولت او خصوصي سکټور د توالو هوایي ډگر پراخه او ښه سمبال کړی دی او د سیلانیانو لپاره یې د ښو هوټلونو په جوړولو لاس پورې کړی دی، څو د بهرنیو سیلانیانو لپاره سهولتونه برابر کړي.

سره له دې چې توالو ډېره پراخه سمندري سیمه لري او ډېر خلک یې د کبانو په نیولو لگیا دي، خو د کب نیولو د وروسته پاتې کار و بار له امله، د دغه هېواد د صادراتو اندازه ډېره د پام وړ نه ده، خو اوس اوس یې له اسټرالیا سره په گډه د کب نیونې یوه بېړۍ اخیستې ده.

د دغه هېواد غټ تجارتي شریکان فیجي، اسټرالیا او نیوزیلنډ دي. توالو ۴۰ غټې سمندري بېړۍ او یو هوایي ډگر لري.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰٦۸۸ او د انټرنټ کود یې ټي وي دی، چې ټولټال یې ۵۰۰ کسان انټرنټ ته لاسرسی لري.

دغه هېواد د اسټرالیا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه دی. د توالو له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول نارینه او ښځینه په لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ۷-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.

تاریخ لیکونکي وایي چې د ختیځې جنوبي اسیا ځینې پخواني اوسېدونکي له ۳۰۰۰ کلونو راپدېخوا، د ارام سمندر ټاپوگانو ته تللي او د پولي نیزي په ټاپوگانو کې استوگن شوي دي. اروپایان په ۱٦مه پېړۍ کې د توالو اوسنیو ټاپوگانو او د سیمې نورو ټاپوگانو ته ورسېدل او دغه ټولگی یې الیس وباله. د اروپایانو له راتگ څخه مخکې، د توالو ټاپوگان د کریباتي او تونکا د ټاپوگانو د اوسېدونکو له یرغلونو سره مخامخ وو. په ۱۵٦۷ ز کال کې هغه وخت چې اسپانوي سمندري سیلاني، الوارو د مندانا لیس ته ورسېد، دغه ټاپوگان په بشپړه توگه د کریباتي او تونگا د خلکو لخوا نیول شوي وو.

په دویمه نړیواله جگړه کې جاپاني پوځونو د گیلبرت ټاپو ونیو او انگلستان د دغو ټاپوگانو اداري مرکز د فانافوتي ټاپو ته ولېږداوه. د ۲۰مې پېړۍ په شپېتمو او اویایمو کلونو کې د الیس او گیلبرت په ټاپوگانو کې د خپلواکۍ غوښتنې خوځښتونه پیاوړي شول. په ۱۹۷۴ ز کال کې انگلستان د الیس او گیلبرت له خپلواکۍ سره موافقه وکړه او د دغه گډ هېواد د نوي اساسي قانون له مخې یې، دوی ته یوه ۲۸ کسیزه ولسي جرگه جوړه کړه. په جرگه کې د الیس د ټاپو اتو استازو چې پولي نیزي نژاده وو، د گیلبرت له استازو سره چې میکرونیزي نژاده وو، ستونزې پیداکړې. په ۱۹۷۵ ز کال کې د الیس ۹۰ سلنه خلکو په یوه ټولپوښتنه کې د جلا هېواد د جوړولو لپاره رایه ورکړه او دغه ټاپو درې کاله وروسته، د توالو په نامه خپلواک شو. یو کال وروسته په ۱۹۷۹ ز کال کې د گیلبرت ټاپو هم د کریباتي په نامه خپلواکي واخیسته او دواړه د انگلستان د کامنولت غړي وپېژندل شول.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د توالو نوم نشته، نو داسې ښکاري چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

د کابل او فونگافالي ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ۷:۳۰ ساعته او د هوا له لارې واټن بیا ۱۲۲۷۷ کیلومترو ته رسېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۰ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ۵۳۲ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۵ |
| £ | ۹۹,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه پوه شو چې له بې خوبۍ سره مخ یو؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د عمر په لوړېدو سره د شپې له خوا ښه خوب کول ورځ تر بلې سختېږي. هغه ورځې چې کاري بوختیاوې مو زیاتې وي او له ذهني اړخه ډېر ستړي کېږی، بیا نو هېڅ ډول ژور او ښه خوب شونی نه دی.

عمر، دندې او شخص ته په کتو، د خوب ساعتونه هم توپیر کوي. د ځینو خوب کم او د ځینو بیا دومره زیات وي، چې په هغه ټاکلي وخت کې هم نه پوره کېږي.

موږ په همدې مقاله کې، په همدې اړه ستاسې د لا پوهاوې لپاره لاندې معلومات راټول کړي دي.

د خوب د برخې متخصص ډاکټر جاکوب تایتلباوم وایي، نن سبا په انسانانو کې بې خوبي یوه عامه ناروغي ده. نوموړي د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا تاسو خپله پوره خوب کوی؟ ویلي: «موږ په یوه داسې ټولنه کې ژوند کوو، چې ټول وګړي یې له بې خوبۍ سره مخ دي». نوموړی وایي، سمه ده چې ځینې کسان به په یوه شپه او ورځ کې له نهو ساعتونو زیات خوب کوي، خو منظم او ارام خوب به یې نه وي کړی. دی وایي، ما په ۳۵ کلنۍ کې په ټوله شپه او ورځ کې نهه ساعته خوب کاوه، خو اوس مې د خوب کچه شپږو ساعتونو او ۴۵ دقیقو ته را ښکته شوې ده. دی وایي، خلک دې ته کافي خوب وایي، خو نه پوهېږي چې د بې خوبۍ له ناروغۍ سره مخ شوي دي.

دا سمه ده چې د بې خوبۍ ټولې نښې نښانې درک کول، ستونزمن دي، خو لاندې نښې د دې ښکارندویي کوي، چې تاسو له بې خوبۍ سره مخ شوي یاست.

۱- ژر ویده کېږئ

په اسانۍ سره ویده کېدل، د بې خوبۍ نښه ده.

ایا تاسو د هغو کسانو په ډله کې راځۍ، چې لا یې بالښت ته سر نه وي ور نږدې کړی او ویده شوي وي؟ کېدای شي ځینې کسان په هر ډول چاپېریال کې له ویده کېدو سره عادت وي او ژر یې خوب یوسي، خو که خبره دا ډول نه وي، ارو مرو د بې خوبۍ پر ناروغۍ اخته یاست. ډاکټر دان دور ستایتس وایي، د بې خوبۍ تر ټولو لویه نښه دا ده چې کس په اسانۍ سره خوب وړي. نوموړی وایي، کله داسې هم شوي چې ټلوزیوني خپرونه ګوری او خوب مو یوسي، یا دا چې په دفتر کې د لږې دمې پر مهال مو خوب وزنګوي؟ دده په خبره، که له دې ډول پېښو سره مخ شوي یاست، نو د شپې لخوا ډېر خوب ته اړتیا لری.

۲- له معمول حد څخه ډېر خوب کوی

له ټاکلې اندازې زیات خوب کول، د دې ښکارندویي کوي، چې ډېر خوب ته اړتیا لرئ. ډاکټر دان دور ستایتس وایي، له معمولي او ټاکلي وخت پرته، خوب کول د بې خوبۍ نښه ده. د بېلګې په توګه، که یوه اونۍ د کار د زیات فشار له کبله د شپې شپږ ساعته خوب وکړی او د اونۍ په اخر کې بیا هر وخت در باندې خوب راځي او د ستړیا احساس کوی، هغه ده چې له بې خوبۍ سره مخ شوي یاست.

۳- فکر مو ګډوډ او تمرکز مو کم شوی دی

دا د حیرانتیا خبره نه ده، چې بې خوبي پر دې مسئله هم اغېز لري. ایا تر اوسه داسې شوي چې د نورو ورځو برعکس مو خپل ټاکلی کار در څخه پاتې کېږي او ستړي کېږی؟ ارو مرو بې خوبه شوي یاست. ډاکټر دان دور ستایتس وایي، هغه کسان چې د شپې لخوا په کافي اندازه نه ویده کېږي، د ورځې لخوا نه شي کولی خپل کارونه په پوره دقت او تمرکز سره تر سره کړي.

۴- د بدن ځواک مو کمزوری شوی دی

د بدني ځواک کمزوري د بې خوبۍ نښه ده.

که تاسو فکر کوی چې د اونۍ په اوږدو کې د شپې لخوا په کافي اندازه خوب کوی، خو بیا مو هم ځینې فزیکي کارونه لکه ورزش او نورو ته له وسه وتلي وي، پوه شی چې تاسو له دې نه یو څه زیات خوب ته اړتیا لری. ډاکټر دان دور ستایتس وایي، کله چې انسان له بې خوبۍ سره مخ شي، بیا نو ورته په ورزشي کلاسونو کې ګډون کول بې خونده او یا هم بیخي ناشوني کېږي. ان کله کله ورته له ماشومانو سره لوبې کول چې په زړه پورې کار دی، ستونزمن کېږي.

۵- جنسي لېوالتیا مو کمه شوې ده

کافي خوب او د خوب کمښت پر جنسي مسایلو مستقیم اغېز کوي. ډاکټر دان دور ستایتس وایي، که د ژوند له ملګري سره د جنسي اړیکې لپاره لېوالتیا نه لری، په ډېر احتمال لامل به یې بې خوبي وي. نوموړی وایي، د خوب کمښت په بدن کې د (تستوسترون) د کموالي لامل کېږي، چې دغه څه پر جنسي تمایل منفي اغېز کوي. خو که کافي خوب هم په دې برخه کې ګټه ونه کړه، بیا له اړوند متخصص سره مشوره وکړئ.

٦- په بدن کې د درد احساس کوئ

له نورو لاملونو پرته په بدن کې د دردونو احساس د بې خوبۍ نښه ده.

کېدای شي ستړي شوي وی. په بدن کې د زیاتو دردونو اصلي لامل سخت کار او ناروغي کېدای شي. خو ډاکټر تایتالباوم بیا په دې اند دی، چې د خوب کموالی هم په بدن کې د دردونو لامل کېږي. دی وایي، موږ چې کله ویده کېږو، بدن مو نوي هرمونونه جوړوي او تخریب شوې حجرې ترمیمېږي. بې خوبي د دې لامل کېږي چې دغه پروسه ټکنۍ شي او په بدن کې د دردونو لامل شي.

پایله

کافي خوب د انسان اساسي اړتیا او د ښې روغتیا لپاره اړین څیز دی. بې خوبي د انسان په بدن کې د ډول ډول ناروغیو او ستړیا لامل کېږي. تمرکز له منځه وړي، اشتها کموي، چې دغه څه د وخت په تېرېدو سره د انسان د بدن د کمزورۍ لامل کېږي. د خوب مهالوېش ته مو پام وکړئ او هره شپه باید په کافي اندازه خوب وکړئ.

نوي زیږېدلي ماشومان هغه چې له (۴ تر ۱۱) میاشتو عمر لري:

د دغه عمر ماشومومان باید لږ تر لږه لس ساعته خوب وکړي. له درې میاشتنۍ وروسته په هېڅ ډول باید د ماشوم خوب تر ۱۸ ساعتونو وا نه وړي.

له خاپوړو تر دوه کلنۍ:

د دغه عمر ماشومانو ته له ۱۱ نیولې تر ۱۴ ساعتونو پورې خوب کافي دی.

څېړونکي په دې اند دي، هغه ماشومان چې عمرونه یې د دریو او پنځو کلونو تر منځ دي، کولي شي له لس تر ۱۳ ساعتونو پورې په یوه شپه او ورځ کې خوب وکړي، خو خوب یې باید چې له اتو کم او له ۱۴ ساعتونو زیات نه شي.

ښوونځي ته تلونکي ماشومان هغه چې له شپږو تر ۱۳ کلونو پورې عمرونه ولري، د دغه عمر ماشومانو ته څېړونکي له نهو نیولې تر ۱۱ ساعتونو پورې د خوب توصیه کوي. هڅه باید وشي چې د دغه عمر کسان له اوو کم او له ۱۲ ساعتونو زیات خوب ونه کړي.

تنکي ځوانان: هغه چې عمرونه یې د ۱۴-۱۷ کلونو تر منځ وي، د دغو کسانو لپاره مناسب خوب له اتو نیولې تر لسو ساعتونو پورې دی، پام مو وي چې دغه کسان له اوو کم او تر ۱۱ ساعتونو زیات خوب ونه کړي.

ځوانان: هغه چې عمرونه یې د ۱۸-۲۵ کلونو تر منځ وي، باید له اوو تر نهو ساعتونو پورې خوب وکړي. د دغه عمر کسانو ته له شپږو کم او تر ۱۱ د زیات خوب سپارښتنه نه کېږي.

د لوړ عمر کسان: هغه کسان چې عمرونه یې له ۲٦ لوړ او تر ٦۴ ټیټ وي، لږ تر لږه باید په یوه شپه او ورځ کې اووه یا اته ساعته خوب وکړي. د دغه عمر کسانو ته سپارښتنه کېږي، چې د خوب وخت یې له پنځو کم او له نهو ساعتونو زیاته نه شي.

## ولسمشر غني: د سولې په مذاکراتي ټیم کې د نظام او ولسواکۍ ضد کسانو ته ځای نه ورکول کېږي

ولسمشر غني ویلي، له طالبانو سره د سولې په مذاکراتي ټیم کې دې د هغو کسانو له ټاکلو ډډه وشي، چې د نظام او ولسواکۍ خلاف دي.

غني دغه خبرې تېره ورځ د مصالحې عالي شورا د رهبرۍ په لومړۍ غونډه کې کړې دي او زیاته کړې یې ده چې دا د ټولو مشرانو خوښه ده، چې په کوم ډول او کومو معیارونو د سولې مذاکراتي ټیم غړي ټاکي.

غني ویلي: «هغو معیارونو ته چې ولس په تېرو میاشتو کې په مشورو کې راسره شریک کړي دي، باید ورته جدي توجه وشي. د بېلګې په ډول، د هغو کسانو له ټاکلو څخه دې ډډه وشي چې په ښکاره ډول د تېرو اتلسو کلونو د لاسته راوړنو، نظام او ولسواکۍ پر ضد غږېږي». خو دا چې دغه کسان څوک دي، ولسمشر په مشخص ډول د چا نوم نه دی اخیستی.

غني له طالبانو سره په مذاکره کوونکي ټیم کې د ښځو، ځوانانو، مدني ټولنو او د نورو مطرحو اقشارو پر استازیتوب هم ټینګار کړی دی.

غني ویلي چې د مصالحې عالي شورا د رهبرۍ په غونډه کې د پلاوي په ګډون، د مذاکره کوونکي ټیم د غړو ټاکل او په قطر کې د افغان سولې په اړه د وړاندیز شوې غونډې پر څرنګوالي او اجنډا پرېکړه کول هم شامل دي.

دا په داسې حال کې ده چې ځینو رسنیو د مذاکره کوونکي ټیم یو نوملړ چې ۲۲ کسان پکې شامل دي، خپور کړی چې تر دې مهاله په رسمي ډول د حکومت له خوا نه دی تایید شوی.

خو د سولې عالي شورا غړي محمداسماعیل قاسمیار بیا ویلي، چې د مذاکره کوونکي ټیم لېست جوړ شوی، خو لا وروستی نه دی چې ښایي تر راتلونکو دوو ورځو پورې نهایي شي.

بلخوا له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو لپاره د مصالحې د مشرۍ شورا یو نوملړ هم خپور شوی دی، چې ۳۷ غړي لري.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د معلوماتو له مخې، دغه شورا د دوو میاشتو په موده کې د افغان وژنې او په افغانستان کې نور د وینې تویېدنې د مخنیوي په هدف جوړه شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له اسلام اباده کابل ته را رسېدلی او د سولې اړوند د نورو مسایلو ترڅنګ، به تر ډېره له طالبانو سره د مذاکراتي ټیم په جوړښت کې له افغان چارواکو سره خبرې وکړي.

بلخوا د ځینو سرچینو په حواله داسې هم ویل شوي، چې حکومت د قطر راتلونکې ناستې ته د خبرو اترو لپاره خپل استازي لېږي، خو دغه خبره تر اوسه رسمي سرچینو نه ده تایید کړې.

## داوودزی: د مصالحې رهبرۍ شورا په اړه نهایي تصمیم نه دی نیول شوی

د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس عمر داوودزي په ارګ کې د افغان چارواکو او سیاستوالو ترمنځ د سولې رهبرۍ شورا ناستې جزیات، چې تر اوسه پرې نهایي توافق نه دی شوی، له رسنیو سره شریک کړي دي.

عمر داوودزي ویلي چې په ارګ کې د مصالحې رهبرۍ شورا په مجلس کې له وسله والو طالبانو سره د مرکچي پلاوي او د مصالحې د رهبرۍ شورا پر ترکیب خبرې وشوې او ټاکل شوې چې د چهارشنبې په ورځ د مرکچي پلاوي او مسودې په تړاو نهایي تصمیم ونیول شي.

نوموړي زیاته کړې: «دغه کمېټه به کار کوي او د مصالحې شورا مشورتي مکمل ترکیب به تر راتلونکې چهارشنبې پورې جوړ شي».

سولې عالي شورا د دارالانشا رییس دغه راز ویلي چې د مصالحې د رهبرۍ شورا چې تر اوسه پرې نهایي توافق نه دی شوی، د چهارشنبې ورځې په ناسته کې به له وسله والو طالبانو سره د خبرو لپاره د مرکچي پلاوي پر ترکیب هم تصامیم ونیول شي.

نوموړي ویلي چې په دغه مجلس کې عبدالرب رسول سیاف ته، چې له طالبانو سره د مخالفت اوږده سابقه لري، دنده سپارل شوې چې د مذاکراتو په برخه کې د دولت سرې کرښې ترتیب کړي.

نوموړي زیاته کړه: «استاد عبدالرب رسول سیاف ته د دغه شورا په راس کې دنده ورکړل شوې، چې د افغان دولت سرې کرښې ترتیب کړي او راتلونکې غونډې ته چې د حمل په ۲۱مه به ترسره کېږي، وړاندې کړي».

داوودزي ویلي چې په قطر کې په جوړېدونکې بین الافغاني ناسته کې یو پراخ هیئت ګډون کوي، خو د چهارشنبې په ورځ به د دغه هیئت څرنګوالی روښانه شي.

د نوموړي په خبره، د مصالحې د رهبرۍ شورا د جوړېدو هدف دا دی، چې له طالبانو سره له یوه واحد دریځ څخه خبرې وشي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily





المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د اپریل اتمه | دویم کال | ۳۵۹مه گڼه




www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲۶ | ۳۲ | ۲۸ | ۳٤ |
| ۱۱ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰٦ | لمر ختل ۰٥:۳۳ | ماسپښین ۱۱:٥٦ | مازیګر ۰۳:۳۲ | ماښام ۰٦:۱۹ | ماخوستن ۰۷:٤٩

## نړۍ




## میدویدیوف: ښایي د روسیې په اساسي قانون کې اصلاحات راشي، خو اوسمهال ورته اړتیا نشته



د روسیې لومړي وزیر دیمتري میدویدیوف ویلي، ښایي د روسیې په اساسي قانون کې اصلاحات راشي، خو د دغو اصلاحاتو اړتیا په اوسمهال کې نه لیدل کېږي. نوموړي ویلي: «زه غواړم پر دې ټینګار وکړم، چې ښایي د روسیې په اوسني اساسي قانون کې بنسټیز اصلاحات رامنځته شي، ما دغه څه د اساسي قانون د ۲۵مې کلیزې په مناسبت، په یوه خپره کړې مقالې کې هم لیکلي وو».

د هغه په خبره، د هر هېواد اساسي قانون په اوږدمهال کې له شرایطو سره سم بدلونونو او اصلاحاتو ته اړتیا لري، خو نوموړی وايي چې زموږ په اساسي قانون کې دغه اړتیا اوسمهال نه احساسېږي.

نوموړي ویلي: «په داسې حال کې چې ټولنه او سیاسي نظام دواړه د پرمختګ په حال کې دي، نو دغه څه د ځینو بنسټونو پر کړنو او په دغو بنسټونو کې د بدلونونو د رواستو لپاره پوښتنې رامنځته کړې دي او دغه څه یوه طبیعي خبره ده».

میدویدیوف زیاته کړې چې د هېواد په اساسي قانون کې چې هر ډول تغییرات او اصلاحات رامنځته کېږي، باید د کارپوهانو لخوا وي او د دغه هېواد د نظام له جوړښت سره سم پرې بحث او خبرې وشي.

نوموړي ویلي: «په اساسي قانون کې هر ډول بدلونونه باید د کارپوهانو له لوري وي او دغه څه باید د نظام له جوړښت سره سم، د ځینو بحثونو او خبرو په ترڅ کې رامنځته شي».